د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# په کندهار ولایت کې پرکاروبار باندې د چاپېریال محافظوي قوانینو اغېزې

**نوراحمد محمدي[۱]، عبدالحمید عیان[۲]، محمد مسعود محمدي[۳]، عبدالغني حسن[۴]**

[۱،۲،۳،۴] اداري سوداگرۍ ډیپارټمنټ، د اقتصاد پوهنځی، د میرویس نیکه لوړو زده کړو مؤسسه کندهار، کندهار، افغانستان

ایمیل: baryal.ahmad.noor@gmail.com

**چکیده**

د چاپېریال ساتنه، د هغو قوانینو ټولگه ده، چې د هغې په واسطه د ژوند پر چاپېریال باندې د سوداگریز سازمانونو د کړنو منفي اغېزې راکموي، نوموړې څېړنې ته ځکه اړتیا لیدل کیږي؛ ترڅو په کندهار ولایت کې د سوداگریزو سازمانونو پر کړنو باندې د چاپېریال د محافظوي قوانینو او د هغو د عناصرو اغېزې روښانه شي. نوموړې څېړنه کمي ده او د څېړنې. لومړني لاس معلومات د (۹۲) کسانو څخه د پوښتنلیک پواسطه راټول شوي دي، او دویم لاس معلومات د مجلو، کتابونو، ژورنالو او مشهورو انټرنیټ ویب پاڼو څخه راټول شوي دي. د راټولولو وروسته، معلومات د IBM SPSS احصایوي پروگرام په واسطه تحلیل شوي. د پوښتنو اعتبار (کرونباخ الفا ۰.۷۰۶ ) ددې موندنو اعتبار تاییدوي.د نوموړې څېړنې څخه داسې پایله ترلاسه شوې، چې په کندهار ولایت کې د چاپېریال محافظوي قوانین د سوداگریزو سازمانونو پر کړنو باندې زیاته اغیزه شیندي او سوداگریزو سازمانونو باید د خپل کاروبار د کړنو د ترسره کولو پر مهال د چاپېریال د محافظوي قوانینو بېلابېلو عناصرو ته ژمن او قایل وي.

**واژگان کلیدی:** اغېزه؛ کاروبار؛ چاپېریال؛ محافظه؛ قوانین؛ ککړتیا

# The Impacts of Environmental Protection Law on Business in Kandahar

Noor Ahmad Mohammadi, Abdul Hamid Ayaan, Mohammad Masoud Mohammadi, Abdul Ghani Hassan

Department of Business Administration, Faculty of Economics, Mirwais Neeka Higher Education Institute, Kandahar, Afghanistan

Email: baryal.ahmad.noor@gmail.com

**Abstract**

Environmental protection is a set of laws that reduce the negative impacts of commercial organizations' activities on the environment. This research is necessary to clarify the effects of environmental protection laws and their elements on the operations of commercial organizations in Kandahar province.The research is quantitative, and primary data was collected through a questionnaire from 92 respondents. Secondary data was gathered from journals, books, magazines, and reputable internet websites. After data collection, the information was analyzed using the IBM SPSS statistical program. The reliability of the questionnaire was confirmed with a Cronbach's Alpha of 0.706. The findings of this research indicate that environmental protection laws have a significant impact on the activities of commercial organizations in Kandahar province. Therefore, commercial organizations should comply with and adhere to the various elements of environmental protection laws while conducting their business operations.

**Keywords:** Impacts; Business; Environment; Protection; Law; Pollution

**ارجاع:** محمدی، ن.، عیان، ع.، محمدی، م.م.، حسن، ع. (۱۴۰۳). په کندهار ولایت کې پرکاروبار باندې د چاپېریال محافظوي قوانینو اغېزې. *د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي-څېړنیزه*۷(۴). ۲۸۷-۲۶۷.
https://doi.org/10.62810/jss.v7i4.133

**پېژندنه**

د چاپېریال ساتنه، د هغو قوانینو ټولګه ده، چې د هغې په واسطه د ژوند پر چاپېریال باندې د سوداګریز سازمانونو د کړنو منفي اغېزې راکموي. نوموړي قوانین په نړۍواله کچه د منلو او پلي کېدو وړ دي.. د چاپېریال قوانین د وسیلو په توګه فعالیت ترسره کوي، چې د هغې په واسطه چاپېریال د منفي اغېزمن کېدو څخه ژغورل کیږي، د بېلګې په توګه: سوداګریز سازمانونه تولیدات او خدمتونه د موخې وړ بازارونو ته په نړۍواله توګه وړاندې کوي. کله چې سوداګریز سازمانونه تولیدات او خدمتونه وړاندې کوي، د هغوي د ترویج په موخه ګڼ شمېر د بازارموندنې فعالیتونه ترسره کوي، چې د هغوي په وسیله ځینې داسې کړنې ترسره کیږي، چې چاپېریال، یعنې د ژوند چاپېریال منفي اغېزمن کوي؛ لکه: پلاستیکي تولیدات عرضه کول، صابون عرضه کول، د کاربن اندازه په فضاء کې زیاتېدل، د اوبو د مقدار زیاتوالی، د ځمکې د کرې ګرموالی او د اټوموسفیر، لیتوسفیر او هایدروسفیر منفي اغېزمن کېدل او د هوا ککړوالی، د اوبو ککړوالی، د اوازونو ککړوالی او داسې نور (Revira, 2016). د دې لپاره چې نوموړي ټول مضر فکتورونه او ننګونې، چې د ژوند د چاپېریال په وړاندې رامنځته کیږي، ختم شي او یا یې اندازه ډېره ټیټه شي. د چاپېریال محافظوي قوانین رامنځته شوي او ټول سوداګریز سازمانونه، چې د نړۍ په هره نقطه کې فعالیت کوي باید ورته ژمن واوسي. د چاپېریال محافظوي قوانین بېلابېل عناصر لري؛ لکه: د ضایعاتو او پاتې شونو مدیریت د څه په وسیله چې د صنعتي او کرنیزو سکتورونو پاتې شونو سم مدیریت ترسره کیږي او کوښښ کیږي چې د هغوي په وسیله د ژوند په چاپېریال کې هوا اوبه ککړې نه شي او که دکثافاتو د زیاتوالي مخه ونیول شي( Anton, W., G. Deltas, and M. Khanna. 2004). د غذایي موادو تولید، چې په کرنیز سکتور کې د حشره وژونکو او کودونو استعمال تر بحث لاندې نیسي، یعنې په کرنیزو سکتورونو کې باید هغه حشره وژونکي مواد او کودونه استعمال شي، چې د ځمکې منرالونه منفي اغېزمن نه کړي او د اوبو د ککړوالي لامل نه شي. د ضایعاتو او پاتې شونو زخیرې، چې د څښلو د اوبو موضوعات په خپلې تر بحث لاندې نیسي، یعنې په ټولنه او د ژوند په چاپېریال کې باید په کافي اندازه پاکې او صافې اوبه د ټولنې د افرادو له پاره موجودې وي؛ څو هغوي ورڅخه ګټه واخلي او روغتیا یې ډاډمنه شي. د کثافاتو اداره او کنټرول، چې د کثافاتو د کنټرول موضوعات په بر کې نیسي، یعنې کوم کثافات چې د سوداګریزو سازمانونو او سکتورونو له فعالیتونو څخه منځته راځي باید اندازه یې ټیټه وساتل شي، څو د ژوند په چاپېریال کې د کثافاتو اندازه راکمه کړي او د ژوندیو موجوداتو پر ژوند باندې منفي اغېزې ونه شیندي (Christmann, P. 2000). د فلورا او فونا تنظیم، یعنې د هغه سرچینې چې اکسیجن ازادوي او هغه سرچینې چې

اکسیجن په مصرف رسوي د هغوي ترمنځ توازون، یعني د نباتاتو او حیواناتو ترمنځ د اکسیجن منظم ساتنې له پاره پروګرامونه؛ لکه د نیالګیو لګول او د راډیو اکټیو شعاتو کمول او داسي نور. د ځمکې زخایرو استخراجول، چې په کې د ځمکې موجوده سرچینې او معدنونو د استخراج ډول او اندازه باید تنظیم شي. د ټرانسپورټ سیستم او ودانیز سیستمونه او زېربیناوې او دا په نظر کې ونیول شي، چې باید په ټولنه کې په کومه اندازه ودانۍ جوړې شي، څومره ځمکه کرنې ته وقف شي او په څومره اندازه ټرانسپورټي وسایط د صنعتي سکتور له خوا تولید شي، څو د نوموړو ټولو ترمنځ اغږمن بیلانس مراعات شي، او داسي نور (Xie, 2022) .

د چاپېریال محافظوي قوانین او د هغوي اغېمن تطبیق ګڼ شمېر ګټې او د اهمیت ټکي له ځان سره لري؛ لکه د چاپېریال او ژوندیو موجوداتو روغتیا په پام کې نیول، د ضایعاتو او پاتې شونو اغېزمن مدیریت، د صنعتي سکتور اداره کول، د چاپېریال بدلونکي، د هغوي ساتنه او داسي نور. د چاپېریال محافظوي قوانین ګڼ شمېر موضوعات په خپله محتوا کې را نغاړي؛ لکه کثافت او کچره، د منابعو دوام، عمومي اصول د چاپېریال ساتنه او نور (Andrews, R. et al. 2003 ). د چاپېریال محافظوي قوانین هم د اوسنیو ژوندیو موجوداتو له پاره ګڼ شمېر ګټې لري او هم د راتلونکو نسلونو لپاره د هغه ساتنه ډاډمنوي، هغه په دې معنی، چې له داسې موضوعاتو سره اړیکه لریاو هغه را سپړي، چې په اوسني عصر کې ټول انسانان هغه ته متوجه نه دي او یا هم د اهمیت په سترګه نه ورته ګوري، خو په اوږده مهال کې یې اغېزې ډېرې دي او کیدای شیکرنې او د ژوند چاپېریال ته ګڼ شمېر ناخوالي رامنځته کړي، د بیلګې په توګه صنعتي سکتور د خپلو فعالیتونو په اساس په تدریج سره د کاربن اندازه په فضاء کې زیاتوي، چې د کاربن د اندازې زیاتوالی د ځمکې د کرې د تودوخې او ګرمۍ لامل ګرځي. د ځمکې د کرې یخچالونه ویلي کیږي، د اوبو اندازه زیاتیږي او بشریت ته په یو لوی طبیعي ناورین بدلیږي. داسې نور کلیدي موضوعات د چاپېریال د محافظوي قوانینو په وسیله تشریح کیږي او هغوي ته د مخنیوي لپاره اغېزمنې حل لارې چارې وړاندې کوي (Christmann, P. and G. Taylor. 2001).

**د څېړنې ستونزه**

نوموړې څېړنه ځکه ترسره شوه ترڅو په کندهار ولایت کې پر کاروبار او سوداګریزو سازمانونو باندې د چاپېریال د محافظوي قوانینو اغېزې وڅېړل شي.

## د څېړنې موخې

### اصلي موخه

په کندهار ولایت کې د چاپېریال محافظوي قوانینو پر کاروبار او د هغوی پر فعالیتونو اغېزې تحلیل او ارزونه، ترڅو د یادو قوانینو مثبت او منفي اړخونه روښانه شي.

### فرعي موخې

۱. د چاپېریال محافظوي قوانینو هغه عناصر مشخصول، چې پر کاروبار باندې اغېزه لري.

۲. د سوداګرۍ، پانګونې او اقتصادي فعالیتونو پر بهیر د دغو قوانینو د اغېزو تحلیل.

۳. کاروبارونه د چاپېریال ساتنې قوانینو سره د تطبیق په برخه کې له کومو ننګونو سره مخ دي، تحلیل کول.

٤. د دولتي ادارو، خصوصي سکتور، او ټولنې رول د چاپېریال ساتنې قوانینو پلي کولو کې ارزول.

### د څېړنې فرضیې

۱. H0**(صفر فرضیه)** :د چاپېریال محافظوي قوانین په کندهار ولایت کې د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو هېڅ اغېزه نه لري.

۲. H1**(بدیله فرضیه)** :د چاپېریال محافظوي قوانین په کندهار ولایت کې د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو اغېزه لري.

### د څېړنې سوالونه Research Questions

هغه پوښتنې چې په نوموړې څېړنه کې ورته ځوابونه ترلاسه کوو په لاندې ډول دي:

### اصلي پوښتنه

په کندهار ولایت کې پر کاروبار باندې د چاپېریال محافظوي قوانین څه ډول اغېزه لري؟

### فرعي پوښتنې

۱. په کندهار ولایت کې پر کاروبار باندې د چاپېریال محافظوي قوانینو کوم عنصر یا عناصر اغېزه لري؟

۲. دغه قوانین د سوداګرۍ ودې، پانګونې او اقتصادي فعالیتونو پر بهیر څه ډول اغېز لري؟

۳. د چاپېریال ساتنې قوانینو تطبیق، کاروبار له کومو ننګونو سره مخ کړی؟

٤. د چاپېریال محافظوي قوانینو په پلي کولو کې دولتي ادارې، خصوصي سکتور او ټولنې رول څه دی؟

## د څېړنې محدودیتونه

د نوموړې څېړنې د تر سره کولو پر مهال چې د کوم لوی خنډ سره مخ شوم، هغه دا و چې د 5 Point Likert Scale Questionnaire د ځوابولو له میکانیزم سره ځواب ویونکي نه وه اشنا، سربېره پردې چې د پوښتنپاڼې د ډکولو میکانیزم ورته روښانه شوی و، بیا هم په پوښتنپاڼو کې ځینو پوښتنو ته د نمرو نا سمه درجه ټاکل شوې وه، چې وروسته سمونې پکې رامنځته شوې.

## د څېړنې اړتیا

نوموړې څېړنې ته ځکه اړتیا لیدل کیږي، څو په کندهار ولایت کې د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو باندې د چاپېریال د محافظوي قوانینو او د هغو د عناصرو اغېزه روښانه شي.

## څېړندود

نوموړې څېړنه کمي او مقداري ده، چې معلومات یې د لومړي او دویم لاس خامو سرچینو څخه ترلاسه شوي دي. لومړني خام معلومات د ترتیب شوې پوښتنپاڼې، چې په 5 Point Likert Scale سره ترتیب شوې په کندهار ولایت کې د بېلابېلو سوداګریزو سازمانونو او کاروبار څخه ترلاسه شوي دي او دویم خام معلومات د بریښنایي پاڼو، انټرنیټي پاڼو، کتابونو، چېټرونو او نورو راپورونو او ژورنالونو څخه ترلاسه شوي دي. معلومات د کمپیوټري احصائیې Statistical Package for Social Science په وسیله تحلیل او تجزیه شوي او د اړتیا وړپایلې ترلاسه شوې.

## د څېړنې جوړښت

نوموړې څېړنه شپږ برخې لري . لومړۍ برخه یې د پېژندنه، چې په هغه کې د څېړنې د موضوع په اړه لنډ معلومات راټول شوي دي او د څېړنې موخې، پوښتنې، جوړښت، محدودیتونه، دڅېړنې اړتیا او څېړندود واضح شوی دی. دویمه برخه یې تیرو څېړنو ته د کتنې برخه ده، چې په نوموړې برخه کې دې څېړنې ته ورته څېړنې، چې په داخل یا له هېواد څخه بهر تر سره شوې دي یادونه شوې او څېړل شوي دي. دریېمه یې د میتودلوژۍ یا څېړندود برخه ده، چې په نوموړې برخه کې د هغه میتود او روش څخه یادونه شوې ده، چې په دې څېړنه کې ترې ګټه اخیستل شوې. څلورمه برخه یې د موادو تحلیل دی، چې په نوموړې برخه کې د راټولو شویو معلوماتو تحلیل او تجزیې ترسره شوې. پینځمه برخه د پایلې ده، چې په نوموړې برخه کې د دې څېړنې د تر لاسه شویو پایلو او د سوالونو د ځوابونو څخه

یادونه شوې ده. وروستی یا شپږمه برخه د اخځلیکونو ده، چې په نوموړې برخه کې د ټولو هغو سرچینو څخه یادونه شوې، چې په نوموړې څېړنه کې ترې ګټه اخیستل شوې.

### د څېړنې مخینه

د چاپېریال محافظه اوکاروبار:نوموړې څېړنه د جورج ریویرا له خوا د ۲۰۱۶ میلادي کال د جنوري په میاشت کې د امریکا متحده یالاتو په جورج واشینګټن پوهنتون کې ترسره شوې ده. نوموړی په خپله څېړنه کې لیکي، چې تر نورو ټولو وختونو په اوسني عصر کې سوداګري او کاروبارونه زیات شوي، څکه یې نو ترمنځ رقابتونه هم زیات شوي دي. د دې له پاره چې سوداګریز سازمانونه یو له بل سره قوي رقابت ترسره کړي، مشتریان جلب کړي او د بازار بدلونکو عناصرو ته په اغېزمنه توګه ځواب ووایي. د بازارموندنې پلابېلمیتودونه کاروي او د نوموړو میتودونو د کارونې په پایله کې د ژوند چاپېریال ته ګڼ شمېر منفي اغېزې لېږدوي؛ د بېلګې په توګه پلاستیکي تولیدات، چې هغه د ژوند د چاپېریال څخه هیڅ وخت نه وځي او بالاخیره د ژوند په چاپېریال کې کثافات زیاتوي، چې د ژوند پر چاپېریال باندې ډېره لویه منفي اغېزه رامنځته کوي. سوداګریز سازمانونه صابون تولیدوي، چې هغه په کوچنیو او لویو ویالو او سیندونو کې د څنګښو او الجیو ډولونه له منځه وړي، چې دا یو بل لوی منفي اغېزدی، چې د ژوند پر چاپېریال باندې واردیږي. ترانسپورټ کمپنیانې د دې لپاره چې د هېواد د ترانسپورټ شاخص Transportation Infrastructure Index ته بسپنه وکړي د ترانسپورټ ګڼ شمېر وسایط تولیدوي، چې هغه په چاپېریال کې د CO کاربن مونو اکسایډ زیاتوي او د ټولنې افرادو په تنفسي ستونزو اخته کوي او په فضاء کې د کاربن اندازه زیاتوي . دا ټولې منفي اغېزې دي، چې سوداګریز سازمانونه او د هغوي فعالیتونه د ژوند پر چاپېریال باندې رامنځته کوي. د نوموړې څېړنې څخه داسې پایله ترلاسه شوې، چې کاروبارونه او د هغوي اړوند فعالیتونه د خپلو ګټو سره سره د ژوند پر چاپېریال باندې منفي اغېزه کوي او سوداګریز سازمانونو ته دا وړاندیز شوی، چې هغوي باید د خپلو فعالیتونو د اجرأ پر وخت د چاپېریال محافظوي قوانینو ته ژمن واوسي، څو د هغوي د فعالیتونو څخه د ژوند چاپېریال ته منفي اغېزې ونه لېږدول شي او یا هم په ډېره لږه اندازه ولېږدول شي (Revira, 2016).

د سوداګریزو سازمانونو پر حکومتولی باندې د چاپېریال د محافظوي قوانینو اغېزې: نوموړې څېړنه د ډیویډ اونګ له خوا د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپټمبر په میاشت کې د انګلستان هېواد په نوتینګام ټرینټ پوهنتون کې ترسره شوې ده. د نوموړې څېړنې څخه داسې پایله ترلاسه شوې، چې د چاپېریال محافظوي قوانین په نړیواله سطحه د تطبیق وړدي او سوداګریز سازمانونه په نړیواله کچه باید د هغوي تطبیق او تعقیب مراعت کړي. یوه خبره چې د یادونې وړ ده هغه دا چې په نړیواله کچه د چاپېریال

محافظوي قوانین د چاپېریال شرایطو، فکتورونو او مشخصاتو ته په کتنې سره توپیر کوي؛ خو ټول سوداګریز سازمانونه باید د اړتیا سره سم د هغه د تطبیق تعقیب وکړي، څو د سوداګریزو سازمانونو له فعالیتونو څخه، چې هغوی یې دخپلې حکومتولی په چوکاټ کې لري منفي اغېزمن نه شي او فعالیتونه یې د ژوند د چاپېریال په ګټه او یا په ډیر لږ تاوان تمام شي، دا ځکه چې میلیونونو کلونه حیواناتو د ژوند پر چاپېریال باندې منفي اغېزه نه وه شیندلې، چې اوس په دې وروستیو کې د انسانانو له خوا شیندل شوې ده؛ لکه د یخچالونو ویلي کیدل، د کرې تودوخه، د اوبو د کچې زیاتوالی، په فضاء کې د کاربن د اندازې زیاتوالی او داسې نور (Ong, September 2001) .

د سوداګریزو سازمان پر فعالیتونو او تمویلي چارو باندې د چاپیریال د نویو محافظوي قوانینو اغېزې:نوموړې څېړنه د ګونګیاګزي له خوا د ۲۰۲۲ میلادي کال د جون په میاشت کې د چین هېواد په ګزانګزي پوهنتون کې تر سره شوې ده. نوموړي په خپله څېړنه کې د چاپېریال د نویو محافظوي قوانینو اغېزې د چین هېواد د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو او تمویلي چارو باندې څېړلې ده. نوموړي په خپله څېړنه کې د چاپېریال د محافظوي قوانینو تاریخچه او تدریجي تکامل ته اشاره کړې او هغه یې مطالعه کړې دي. د نوموړې څېړنې څخه داسې پایله ترلاسه شوې، چې سوداګریزو سازمانونو ته په عملیاتي او ستراتیژیکي چاپېریال کې نوي نافذ شوي محافظوي قوانین په برخو کې، په تېره بیا په تمویلي چارو کې ګڼ شمېر ګټې رامنځته کړې؛ لکه د سوداګریزو سازمانونو په اقتصادي برخو کې ونډه زیاتول، د سوداګریزو سازمانونو رقابتي قوې پیاوړې کول، د پور د ترلاسه کولو نویو لارو چارو او میتودونو تهپراختیا ورکول، د سوداګریزو سازمانونو لپاره د تمویل نوې سرچینې رامنځته کول او هغوی ته وده ورکول او داسې نور (Xie, 2022).

د یو پر درې برخه مړینو عامل ناپاکه هوا ده: د روغتیا نړیوال سازمان WHO په خپله یوه څېړنه کې، چې په ۲۰۱۷ کال کې د دغه سازمان د څېړنېز مرکز له خوا ترسره شوې دا موندل شوې ده، چې په نړۍ کې د دریو خطرناکو ناروغیو او د هغه له امله د مړینو عامل یو هم ناپاکه هوا ده . دغه سازمان په خپله څېړنه کې موندلې، چې د مغزي سکتې، زړه حملې او سرطان ۱/۳ برخه د ناپاکې هوا د تنفس له امله رامنځ ته کیږي . د څېړنې پایله څرګندوي، چې د هوا د ککړتیا یو مهم عامل هم پلاستیک دی .(Janadri, 2017)

د هوا د ککړتیا شاخص ۹ برابره لوړ شوی دی: هغه څېړنه چې تازه د هند (د ککړتیا د کنټرول مرکزي بورډ) اداري له خوا په ۲۰۱۹م کال کې ترسره شوې ده، د هند هېواد د نوي ډهلي د ښار د هوا د ککړتیا شاخص په کې ۹ برابره لوړ ښودل شوی، دغه بورډ وایي چې د تېرو دریو کلونو په نسبت د دغه ښار

هوا ۹ چنده زیاته ککړه شوې ده او په دې وروستیو کې دغه ښار ته د هوا د ککړتیا له امله د هوایي پروازونو په برخه کې ۳۰ سلنه کموالی راغلی دی، دغه اداره وړاندیز کوي، چې په ډهلي ښار کې د پلاسټیک استعمال په کلي ډول بند او د موټرو کارونه محدوده شي (Kajir & Board, 2019).

پلاسټیک به په نړۍ کې په خطرناک تهدید بدل شي: د هند د SRM ساینس او ټکنالوژۍ انسټیټیوټ یو پروفیسور ډاکټر سچیتي په خپله یوه څېړنه کې، چې د(ولې ککړتیا؟) تر عنوان لاندې یې په ۲۰۱۶م کال کې په هند هېواد کې تر سره کړې، موندلې ده چې په راټلونکو ۵۰ کلونو کې به پلاسټیک په نړۍ کې د روغتیا پر وړاندې په خطرناک تهدید بدل شي. هغه د دې خطر علتونه په ګوته کړي او وایي چې نړۍ په چټکۍ د اقلیم له بدلون سره مبارزه کوي، خو د دې ترڅنګ د چاپېریال ککړتیا چې یو مهم عامل یې پلاسټیک دی هم د توجه وړ ګرځېدلې ده. هغه وایي دا چې پلاسټیک په ډېره سختۍ له منځه ځي او ورځ تر بلې یې په نړۍ کې تولید او کارونه مخ په ډېرېدو ده، نو له دې وروسته به نړۍ د پلاسټیک د له منځه وړلو لاه له ډېرو ستونزو سره مخ وي (Sancheti, 2016).

له پلاسټیک ډک سمندرونه: جان اموس John Amose په ۲۰۱۷م کال کې د (ایا نړۍ د هوا د ککړتیا مخنیوی کولای شي؟) تر عنوان لاندې په CQ Research ژورنال کې یوه څېړنه خپره کړې ده او وایي چې هر کال د نړۍ په سمندرونو کې نژدې ۸ ممیلیونه ټنه پلاسټیک ور زیاتېږي. هغه وایي د بریټانیا د پلیموت سمندري لابراتوار د یوې څېړونکې ببرۍ کارکوونکو سره یو ځای شوم، چې د سمندر د اوبو د بېلابېلو برخو څخه یې نمونې راټولولې. له شپږو بېلابېلو سیمو یې هره میاشت یوه نمونه را اخیستله، درې لوی جالونه یې اوبو ته ښکته کړل او د لسو دقیقو له پاره یې د اوبو له سطحې لږ ښکته راکش کړل، په هر جال کې یو لوښی ایښودل شوی و، چې د هغه په مرسته به یې د اوبو نمونې را اخیستلې او له چاپېلو وروسته به یې تر لاسه شوي توکي په لابراتوار کې مطالعه کول. تر ټولو حیرانوونکې موندنه دا وه، چې د اوبو په هرې نمونې کې پلاسټیک موجود و، ټوټې یې ډېرې وړې وې، چې ځینې شنې او ځینې سپینې وې. په لابراتوار کې ساینس پوهانو ته څرګنده شوه، چې د دغو موندل شویو پلاسټیکي زرو تقریبًا یو پر دریمه برخه د پلاسټیکي کڅوړو له پاتې شونو راغلې وې.. (Amose, 2017).

**څېړندود**

انسان له پخوا څخه په دې لټه کې دی، چې طبیعي حوادث وپېژني او له هغو سره مبارزه وکړي. دغه انساني هڅې له منظمو روشونو سره یو ځای وي؛ نو ځکه په پایله کې د پام وړ پرمختیاوې منځته راغلې دي. د څېړنې په روش کې موخه د هغو ټولو فعالیتونو روش دی، چې هدف ته د رسیدو لپاره ترسره کیږي. څېړنه له هغه روش څخه عبارت ده، چې له هغه څخه په استفادې سره څېړونکي د واقعیت

قوانينو ته لاره پيداکوي. د څېړنې روشونه په حقيقت کې واقيعت ته د رسېدو له پاره وسيله ده. په هره څېړنه کې څېړونکي هڅه کوي چې مناسب روش انتخاب کړي او دا هغه روش دی چې له نورو قوانينو څخه په ډېر دقيق ډول د واقيعت قوانين کشف کړي او د متغيرينو تر منځ اړيکه راوښيي، پر دې بنسټ دشته  واقيعتونو پيژندل د مناسب روش انتخاب ته اړتيا لري.

## د څېړنې ساحه

د څېړنې ساحه يا ټولنه له ټولو هغو واقعي يا فرضي غړو څخه عبارت ده، چې د څېړنې څخه لاس ته راغلې پايلې  هغوي ته راجع کيږي يا د نظر وړ هغه مطلوب عناصر، چې لږ تر لږه مشخص صفات ولري، ټولنه بلل کيږي.د دې څېړنې په احصايوي ټولنه کې د کندهار ولايت د سوداګريزو سازمانونو او کاروبار فعاليتونه په نظر کې نيول شوي دي.

## دڅېړنې ډول

نوموړې څېړنه چې په کندهار ولايت کې د کاروبار او سوداګريزو سازمانونو پر فعاليتونو باندې د چاپېريال د محافظوي قوانينو اغېزې  ترعنوان لاندې ترسره شوې، يوه ارتباطي او کمي يا مقداري څېړنه ده او د موادو تحليل  او تجزيه د کمپيوټري احصايې   SPSS-Statistical Package for Social Science د پروګرام په واسطه ترسره شوې ده.

## د څېړنې احصايوي معلومات

په نوموړې څېړنه کې چې کوم خام معلومات تحليل کيږي، لومړني خام معلومات دي چې د۹۲ تنو ځواب ويونکو څخه، چې په بېلابېلو سوداګريزو سازمانونو او کاروبار پورې اړه لري د Systematic Sampling په وسيله د  Likert Scale Questionnaire په وسيله ترلاسه شوي دي.

## د تحليل ميتود

په نوموړې څېړنه کې راغونډ شوي ارقام د OLS (Ordinary Least Square) يا د مربعاتو حد اقل روش په اساس تحليل شوي دي، چې د  Linear  Regression څخه په کي استفاده شوي ده او د نوموړي موډل څخه لاسته راغلی ضريب په لاندې موډل کې، چې د چاپېريال د محافظوي قوانينو او د سوداګريزو سازمانونو د فعاليتونو د  تيوريانو  دمطالعې څخه وروسته په خپله د څېړونکي (زما) له خوا ترتيب شوي دي.

$$BP_i = \beta_0 + \beta_1 ENVPL_i + \varepsilon_i$$

**دمتغیرونو تشریح**

په پورته موډل کې چې کوم متغیرونه برخه لري په لاندې ډول یې تشریح کوم:

ENVPL: په کندهار ولایت کې د چاپېریال محافظوي قوانین ښيي، چې په نوموړې تابع کې د خپلواک متحول یا Independent Variable دی.

$\boldsymbol{\beta_0}$: د Y پر محور باندې د ګراف د تقاطع نقطه ده.

BP: په کندهار ولایت کې کاروبارونه ښيي، چې په نوموړې تابع کې د تابع متحول یا dependent Variable دی.

$\boldsymbol{\beta_1}$: ضریب دی، چې د خپلواکه متغیرونو د اغېزې اندازه پر تابع متحول ښيي، یعنې د چاپېریال د محافظوي قوانینو اغېزې د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو باندې ښيي.

$\boldsymbol{\varepsilon}$: نوموړی سمبول له هغه متغیرونو څخه استازیتوب کوي، چې په نوموړي موډل کې ځای نه دي ورکړل شوی؛ خو پر تابع متغیر باندې اغېزه ښندي او دې ته د انحرافاتو او غلطیانو ضریب هم ویل کیږي.

**تحلیلي برخه**

*جدول ۱: د کرونباچ ضریب*

| د اعتبار احصایه | |
| --- | --- |
| د پوښتنو شمیر | د کرونباچ الفا |
| ۱۸ | .۷۰۶ |

پورتنی جدول د کرونباچ ضریب دی، چې د څېړنې د پوښتنپاڼې کره والی او د پوښتنو داخلي اعتبار ته اشاره کوي. دا چې د پوښتنپاڼې پوښتنې څومره په موضوع پورې اړه لري او موضوع تشریح کولای شي د کرونباچ ضریب په وسیله واضح کیږي. که چېرې د کرونباچ ضریب 70% او یا ترهغه زیات وي په هغه صورت کې د پوښتنپاڼې د قوي کره والی او اعتبار ښودونکی دی، لکه: زموږ په څېړنه کې چې تقریبًا 71% دی، چې دا یوې قوي او کره پوښتنې په پوښتنپاڼې کې ځای پر ځای شوې دي او موضوع تشریح کوي.

*جدول ۲: جنسیت*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| نارینه[1] | ۹۲ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ | ۱۰۰٪ |

د پورتني جدول څخه په واضح توگه معلومیږي چي زموږ په څېړنه کښي ۹۲تنه ځواب ویونکي وه او ټول نارینه دي او کوم ښځینه ځواب ویونکي موجود نه دي.

*جدول ۳: عمر*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸-۲۵ | ۱۲ | ۱۳.۰ | ۱۳.۰ | ۱۳.۰ |
| ۲۶-۳۵ | ٦ | ٦.۵ | ٦.۵ | ۱۹.٦ |
| ۳٦-۴۵ | ۵۲ | ۵٦.۵ | ۵٦.۵ | ۷٦.۱ |
| ۵۰اضافه | ۲۲ | ۲۳.۹ | ۲۳.۹ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

د پورته جدول څخه دا واضح کیږي چي زموږ د څیړونکي د پوښتنپاڼو ۱۲ تنه ځواب ویونکي د ۱۸-۲۵ کلونو پورې عمر لري، ٦ تنه د ۲٦-۳۵کلونو پورې عمر لري، ۵۲ تنه د ۳٦-۴۵کلونو پورې عمر لري او پاتې ۲۲ تنه د ۵۰ کلونو څخه اضافه عمر لري.

*جدول ۴: زده کړه کچه*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲ پاسه | ۱۷ | ۱۸.۵ | ۱۸.۵ | ۱۸.۵ |
| ۱۴ پاسه | ۱۰ | ۱۰.۹ | ۱۰.۹ | ۲۹.۳ |
| لیسانس | ۴۷ | ۵۱.۱ | ۵۱.۱ | ۸۰.۴ |
| ماستر | ۱۸ | ۱۹.٦ | ۱۹.٦ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

د پورته جدول څخه دا واضح کیږي چي زموږ د څیړونکي د پوښتنپاڼو ۱۷ تنه ځواب ویونکي د ۱۲ پاسه زده کړي لري،۱۰ تنه د ۱۴ پاسه زده کړي لري، ۴۷ تنه لیسانس زده کړي لري او پاتې ۱۸ کسان د ماستري پوري زده کړي لري .

*جدول۵: د کثافاتو ککړتیا*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۳٦ | ۳۹.۱ | ۳۹.۱ | ۹۷.۸ |
| موافق | ۳۸ | ۴۱.۳ | ۴۱.۳ | ۵۸.۷ |
| کم موافق | ۱٦ | ۱۷.۴ | ۱۷.۴ | ۱۷.۴ |
| ډیرکم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپیریال محافظوي قوانین د کثافاتو په ککړتیا اغیزه کوي او که نه؟کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۳٦ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو،۳۸ تنه ورسره موافق وو، ۱٦ تنه کم موافق وو او۲ تنه ډیر کم موافق وه .

*جدول٦: د شور ککړتیا*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ٦٠ | ٦٥.٢ | ٦٥.٢ | ۹۷.۸ |
| موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۳۲.٦ |
| کم موافق | ۲۸ | ۳۰.۴ | ۳۰.۴ | ۳۰.۴ |
| ډیرکم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

**ایا د چاپیریال محافظوي قوانین د شور په ککړتیا اغیزه کوي او که نه؟ کله چي نوموړي پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ٦٠ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۲ تنه ورسره موافق وو، ۲۸ تنه کم موافق وو، ۲ تنه ډیر کم موافق وه .**

*جدول۷: د پلاستیکي او غیر حیاتي تخریبي محصولاتو تولید*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۷۴ | ۸۰.۴ | ۸۰.۴ | ۸۰.۴ |
| موافق | ۳ | ۳.۳ | ۳.۳ | ۸۳.۷ |
| کم موافق | ۱۳ | ۱۴.۱ | ۱۴.۱ | ۹۷.۸ |
| ډیرکم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

**آیا د چاپیریال محافظوي قوانین د پلاستیکي او غیر حیاتي تخریبي محصولاتو تولید اغیزه کوي او که نه؟ کله چي نوموړي پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۷۴ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۳ تنه ورسره موافق وو، ۱۳ تنه کم موافق وو او ۲ تنه ډیر کم موافق وه .**

*جدول۸: په هیواد کې د کانونو په پروسه*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۳۷ | ۴۰.۲ | ۴۰.۲ | ۷۵.۰ |
| موافق | ۲۷ | ۲۹.۳ | ۲۹.۳ | ۳۴.۸ |
| کم موافق | ۵ | ۵.۴ | ۵.۴ | ۵.۴ |
| ډیرکم موافق | ۲۳ | ۲۵.۰ | ۲۵.۰ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

**آیا د چاپیریال محافظوي قوانین په هیواد کې د کانونو په پروسه اغیزه کوي او که نه؟ کله چي نوموړي پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۳۷ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۲۷ تنه ورسره موافق وو، ۵ تنه کم موافق وو او ۲۳ تنه ډیر کم موافق وه**

جدول۹: د کثافاتو مدیریت

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۴۶ | ۵۰.۰ | ۵۰.۰ | ۵۰.۰ |
| موافق | ۲۴ | ۲٦.۱ | ۲٦.۱ | ۷٦.۱ |
| کم موافق | ۱۵ | ۱٦.۳ | ۱٦.۳ | ۹۲.۴ |
| ډیرکم موافق | ۳ | ۳.۳ | ۳.۳ | ۹۵.۷ |
| نظر نه لرم | ۴ | ۴.۳ | ۴.۳ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپیریال محافظوي قوانین د کثافاتو مدیریت اغیزمن کوي او که نه؟ کله چې نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۴٦ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو،۲۴ تنه ورسره موافق وو، ۱۵ تنه کم موافق وو، ۳ تنه ډیر کم موافق وه او ۴ تنو نظرنه درلودي..

جدول۱۰: نباتات او حیوانات

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۷۴ | ۸۰.۴ | ۸۰.۴ | ۹۰.۲ |
| موافق | ۳ | ۳.۳ | ۳.۳ | ۹.۸ |
| کم موافق | ٦ | ٦.۵ | ٦.۵ | ٦.۵ |
| ډیرکم موافق | ۹ | ۹.۸ | ۹.۸ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

ایا د چاپیریال محافظوي قوانین په نباتاتو او حیواناتو اغیزه کوي او که نه؟ کله چې نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۷۴ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو،۳ تنه ورسره موافق وو، ٦ تنه کم موافق وو،۹ تنه ډیر کم موافق وه.

جدول۱۱: د اوبو کیفیت

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۲۰ | ۲۱.۷ | ۲۱.۷ | ۲۱.۷ |
| موافق | ۲۷ | ۲۹.۳ | ۲۹.۳ | ۵۱.۱ |
| کم موافق | ۲۹ | ۳۱.۵ | ۳۱.۵ | ۸۲.٦ |
| ډیرکم موافق | ۴ | ۴.۳ | ۴.۳ | ۸۷.۰ |
| نظر نه لرم | ۱۲ | ۱۳.۰ | ۱۳.۰ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپیریال محافظوي قوانین د اوبو کیفیت اغیزمنوي او که نه؟ کله چې نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۲۰ تنه ورسره ډېر زیات موافق وو، ۲۷ تنه ورسره موافق وو، ۲۹ تنه کم موافق وو، ۲ تنه ډېر کم موافق وه او ۱۲ تنو نظرنه درلودې.

*جدول۱۲: په څمکه کې د خطرناکو موادو او عناصرو ککړتیا او کمول*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډېر زیات موافق | ۵۹ | ۶۴.۱ | ۶۴.۱ | ۶۴.۱ |
| موافق | ۲۹ | ۳۱.۵ | ۳۱.۵ | ۹۵.۷ |
| کم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۹۷.۸ |
| ډېرکم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپیریال محافظوي قوانین په څمکه کې د خطرناکو موادو او عناصرو ککړتیا او کمولو باندې اغیزه کوي او که نه؟ کله چې نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۵۹ تنه ورسره ډېر زیات موافق وو، ۲۹ تنه ورسره موافق وو، ۲ تنه کم موافق وو او ۲ تنه ډېر کم موافق وه .

*جدول۱۳: د ځنګلونو او څمکو په پایښت*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډېر زیات موافق | ۷۱ | ۷۷.۲ | ۷۷.۲ | ۷۷.۲ |
| موافق | ۱۸ | ۱۹ | ۱۹ | ۹٦.۷ |
| کم موافق | ۳ | ۳.۳ | ۳.۳ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپیریال محافظوي قوانین د ځنګلونو او څمکو په پایښت اغیزه کوي او که نه؟ کله چې نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۷۱ تنه ورسره ډېر زیات موافق وو، ۱۸ تنه ورسره موافق وو او۳ تنه کم موافق وو.

*جدول۱۴: د سرچینو په پایښت*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډېر زیات موافق | ۵٦ | ٦۰.۹ | ٦۰.۹ | ٦۰.۹ |
| موافق | ۲۴ | ۲٦.۱ | ۲٦.۱ | ۸۷.۰ |
| کم موافق | ۵ | ۵.۴ | ۵.۴ | ۹۲.۴ |
| ډېرکم موافق | ۳ | ۳.۳ | ۳.۳ | ۹۵.۷ |
| نظر نه لرم | ۴ | ۴.۳ | ۴.۳ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپېریال محافظوي قوانین د سرچینو په پایښت اغیزه کوي او که نه؟ کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۵٦ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۲۴ تنه ورسره موافق وو، ۵ کم موافق وو، ۳ تنه ډیر کم موافق وه او ۴ تنو نظر نه درلودي.

*جدول۱۵: د اوبو زیرمي*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۵٦ | ۳۳.۷ | ۳۳.۷ | ۳۳.۷ |
| موافق | ۲۴ | ۳۴.۸ | ۳۴.۸ | ٦۸.۵ |
| کم موافق | ۵ | ۱۷.۴ | ۱۷.۴ | ۸۵.۹ |
| ډیرکم موافق | ۳ | ۷.٦ | ۷.٦ | ۹۳.۵ |
| نظر نه لرم | ۴ | ٦.۵ | ٦.۵ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپېریال محافظوي قوانین د اوبو زیرمو باندې اغیزه کوي؟او که نه؟ کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۵٦ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۲۴ تنه ورسره موافق وو، ۵ کم موافق وو، ۳ تنه ډیر کم موافق وه او ۴ تنو نظر نه درلودي.

*جدول۱٦: په کندهار ولایت کښې پر ساختماني چارو او زراعتي مینې باندې د آبادۍ جوړول*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۵۰ | ۵۴.۳ | ۵۴.۳ | ۵۴.۳ |
| موافق | ۳۹ | ۴۲.۴ | ۴۲.۴ | ۹٦.۷ |
| کم موافق | ۲ | ۲.۲ | ۲.۲ | ۹۸.۹ |
| ډیرکم موافق | ۱ | ۱.۱ | ۱.۱ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

آیا د چاپېریال محافظوي قوانین په کندهار ولایت کښې پر ساختماني چارو او زراعتي مینې باندې د آبادۍ جوړولو په برخه کښې کومه آغیزه شیندي او که نه؟ کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۵۰ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو، ۳۹ تنه ورسره موافق وو، ۲ کم موافق وو او ۱ تنه ډیر کم موافق وه.

*جدول۱۷: د خوړو په تولید*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۵۱ | ۵۵.۴ | ۵۵.۴ | ۵۵.۴ |
| موافق | ۳۹ | ۴۲.۴ | ۴۲.۴ | ۹۷.۸ |
| کم موافق | ۱ | ۱.۱ | ۱.۱ | ۹۸.۹ |
| ډیرکم موافق | ۱ | ۱.۱ | ۱.۱ | ۱۰۰.۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ |

ایا د چاپیریال محافظوي قوانین د خوړو په تولید اغیزه کوي او که نه؟ کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۵۱ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو،۳۹ تنه ورسره موافق وو، ۱ کم موافق وو او ۱ تنه ډیر کم موافق وه.

*جدول۱۸: چاپیریال او ایکو سیستم*

| | فریکونسي | سلنه | اعتبار وړ سلنه | مجموعي سلنه |
|---|---|---|---|---|
| ډیر زیات موافق | ۴۰ | ۴۳.۵ | ۴۳.۵ | ۴۳.۵ |
| موافق | ۴۱ | ۴۴.٦ | ۴۴.٦ | ۸۸.۰ |
| کم موافق | ۷ | ۷.٦ | ۷.٦ | ۹۵.۷ |
| ډیرکم موافق | ۴ | ۴.۳ | ۴.۳ | ۱۰۰.۰ |
| مجموعه | ۹۲ | ۱۰۰.۰ | ۱۰۰.۰ | |

ایا چاپیریال او ایکو سیستم د چاپیریال محافظوي قوانین لخوا اغیزمن کیږیاو که نه؟ کله چي نوموړې پوښتنه د ۹۲ تنو ځواب ویونکو څخه مطرح شوه، نو ۴۰ تنه ورسره ډیر زیات موافق وو،۴۱ تنه ورسره موافق وو، ۷ کم موافق وو او ۴ تنه ډیر کم موافق وه

*جدول ۱۹: د متغیرو اړیکه*

| | | کاروبارونه | د چاپیریال ساتنې اداره |
|---|---|---|---|
| د چاپیریال ساتنې اداره | پییرسن اړیکه | ۱.۰۰۰** | ۱ |
| | Sig. (2-tailed) | .۰۰۰ | |
| | د جوابونو شمیر | ۹۲ | ۹۲ |
| کاروبارونه | پییرسن اړیکه | ۱ | ۱.۰۰۰** |
| | Sig. (2-tailed) | | .000 |
| | د جوابونو شمیر | ۹۲ | ۹۲ |

**.اړیکه د ۰.۰۱ په کچه کې د پام وړ ده (۲-tailed)

پورته جدول زموږ د څیړنې د تابع متحول او خپلواک متحول ترمنځ اړیکه راښیي او د نوموړي جدول څخه په واضح توګه معلومیږي چې د چاپېریال د محافظوي قوانینو او د کاروبار ترمنځ قوي اړیکه موجوده ده، ځکه چې Significance Value یې تر ۰.۰۵تیټه ده او صفر ته تقرب کوي.

*جدول۲۰: د موډل خلاصه*

| ماډل | R(ساده ارتباط) | R Square(د انحراف تناسب) | Adjusted R Square (ترتیب سوی د انحراف تناسب) | Std. Error of the Estimate (د اټکل معیاري تیروتنه) |
|---|---|---|---|---|
| 1 | .۸۳۳[a] | .۷۳۸ | .۷۰۸ | .۰۰۰۰۰ |

د چاپیریال ساتنې اداره ,(دوامداره) :وړاندوینه کوونکي .a

په پورته جدول کې د R قیمت ښیي، چې خپلواک متحول د تابع پر متحول باندې څومره اغېزه ښندي. د پورته جدول څخه په واضح توګه معلومیږي چې د چاپیریال محافظوي قوانین، یعنې خپلواک متحول پر تابع متحول، یعنې کاروبار او تجارت باندې ۸۳٪ اغېزه لري او R Square ښیي، چې موډل څومره د تشریح وړتیا لري، یعنې خپلواک متحول څومره تابع متحول تشریح کولای شي او په نوموړي جدول کې د R Square قیمت هم ۷۴٪ دی، هغه په دې معنی چې ۷۴٪ کتلوي فکتورونه پر نشراتو باندې اغېز ښندي او اغېزه یې هم مثبته ده.

*جدول۲۱: د انحرافاتو تحلیل او د فرضیې آزموینه (ANOVA)*

| ماډل | | مختلفو عواملو ته راجع انحراف | د ازادۍ درجې | د اوسط څخه انحراف | F | Sig. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | رجعت | ۱۷۵۴.۳۷۱ | ۱ | ۱۷۵۴.۳۷۱ | . | .b |
| | بقایا | .۰۰۰ | ۲۸ | .۰۰۰ | | |
| | جمله | ۱۷۵۴.۳۷۱ | ۲۹ | | | |

کاروبارونه :ترلې متحویل .a

د چاپیریال ساتنې اداره ,(دوامداره) :وړاندوینه کوونکي .b

په پورتني جدول کې د صفري فرضیې رد او یا تایید او د بدیلې فرضیې رد او یا تایید ترسره کیږي، هغه په دې معنی چې که په نوموړي جدول کې د Significance Value تر ۰.۰۵ ټیټه او یا مساوي راغله، په هغه صورت کې د څېړنې صفري فرضیه رد او بدیله فرضیه تایید ده، دا چې زموږ د څېړنې Significance Value تر۰.۰۵ ټیټه ده؛ څکه نو زموږ د څېړنې صفري فرضیه رد او بدیله فرضیه تایید ده، یعنې په کندهار ولایت کې د چاپیریال محافظوي قوانین پرسوداګریزو سازمانونو او د هغوی پر فعالیتونو باندې اغېزه نه لري رد او د چاپیریال محافظوي قوانین په کندهار ولایت کې پر کاروبار باندې اغېزه لري تایید ده.

**د څېړنې د پایلو مناقشه(Discussion)**

د څېړنې احصایوي پایلې چې د R ارزښت (۸۳٪) او(74 ٪ R Square) ښیي، دا ثابتوي چې د چاپېریال محافظوي قوانین د سوداګریزو فعالیتونو پر ودې او تنظیم قوي اغېز لري .دغه پایلې د پخوانیو څېړنو له موندنو سره پرتله او تحلیل کوو. د جورج ریویرا (۲۰۱٦) څېړنه هغه ادعا کوي، چې سوداګریز فعالیتونه د چاپېریال پر ککړتیا مستقیم اغېز لري او د سوداګریزو سازمانونو د بازارموندنې تاکتیکونه د ککړتیا لامل کېږي. زموږ څېړنه دا تاییدوي، څکه چې موندلې مو ده چاپېریالي قوانین د سوداګرۍ پر فعالیتونو

۸۳٪ اغېز لري، چې دا ښيي. کله چې قوانین سخت وي، سوداګر مجبور دي چاپېریالي معیارونه رعایت کړي. د ډیویډ اونګ (۲۰۰۱) څېړني موندلې وه چې د چاپېریالي قوانینو تطبیق په نړۍواله کچه د سوداګرۍ پر حکومتولۍ او تصمیم‌نیونه اغېز لري. زموږ څېړنه دا مفهوم په سیمه‌ییزه کچه (کندهار) تاییدوي، ځکه چې صفري فرضیه مو رد کړه، یعنې د چاپېریالي قوانینو نشتوالي سوداګرۍ ته بې‌پروایي ورکړې وه، خو اوس قوانین پر سوداګرۍ مستقیم اغېز لري. د ګونګیاګزي (۲۰۲۲) څېړنه، نوموړي استدلال کړی و؛ چې د نوي محافظوي قوانینو نافذېدل سوداګرۍ ته د تمویل نوې لارې پرانیزي او اقتصادي وده زیاتوي.زموږ څېړنه له دې سره یو څه توپیر لري، ځکه چې د کندهار سوداګریز سازمانونه لا هم د قوانینو د سختوالي له امله د اقتصادي ستونزو سره مخ دي، که څه هم قوانین یې د سوداګرۍ پر پالیسو اغېز لري. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO, 2017) او د هند د ککړتیا د کنټرول مرکزي بورډ (۲۰۱۹) څېړنې (WHO (2017او د هند ککړتیا بورډ (۲۰۱۹) ښیي، چې هوا او اوبه د سوداګریزو فعالیتونو له امله سخت ککړ شوي، او پلاستیک پکې اساسي رول لري. زموږ څېړنه هم دا تاییدوي، ځکه چې د چاپېریالي قوانینو د سختوالي اړتیا دلته هم مطرح ده، ترڅو سوداګر مجبورهشي د ککړتیا مخنیوی وکړي.

که څه هم سوداګر د قوانینو له سختوالي شکایت کوي، خو دا اړتیا ده چې د سوداګریزو سازمانونو د چاپېریالي مسوولیتونو درک زیات شي، څو سوداګرۍ د تل پاتې پرمختګ لور ته لاړې شي.د چاپېریالي قوانینو اغېز، چې زموږ څېړنه یې تاییدوي، له نړۍوالو څېړنو سره ورته دی، خو په افغانستان، په ځانګړې توګه کندهار کې د قوانینو پلي کېدل لا هم اقتصادي محدودیتونه رامنځته کړي دي .له همدې امله، د سوداګرۍ سکتور باید د قانوني اصلاحاتو او دولتي سبسایدیو له لارې د چاپېریالي اصولو رعایت ته وهڅول شي.

**پایلې**

د چاپېریال ساتنه د هغو قوانینو ټولګه ده ، دڅه په وسیله چې د سوداګریزو سازمانونو د فعالیتونو منفي اغېزې د ژوند پر چاپېریال باندې راکموي . نوموړي قوانین په نړیواله کچه قابل د پلي کېدو او منلو وړ دي. د چاپېریال قوانین د وسیلو په توګه فعالیت ترسره کوي ، چې د هغه په وسیله چاپېریال د منفي اغېزمن کېدو څخه ژغورل کیږي؛ د بېلګې په توګه: سوداګریز سازمانونه تولیدات او خدمات د هدف بازارونو ته په نړۍواله توګه عرضه کوي، کله چې سوداګریز سازمانونه تولیدات او خدمات عرضه کوي، د هغوی د ترویج په موخه ګڼ شمېر د بازارموندنې فعالیتونه ترسره کوي، چې د هغوی په وسیله ځینې داسې کړنې ترسره کیږي، چې چاپېریال، یعنې د ژوند چاپېریال منفي اغېزمن کوي؛ لکه: پلاستیکي

تولیدات عرضه کول، صابون عرضه کول، د کاربن اندازه په فضاء کې زیاتیدل ، د اوبو د مقدار زیاتوالی، د ځمکې د کرې تودوخه او د اټوموسفیر، لیتوسفیر او هایدروسفیر منفي اغېزمن کیدل او د هوا ککړوالی، د اوبو ککړوالی، د اوازونو ککړوالی او داسي نور. د دې لپاره چې نوموړي ټول مضر فکتورونه او ننګونې، چې د ژوند د چاپېریال په وړاندې رامنځته کیږي ختم شي او یا یې اندازه ډېره ټیټه شي. د چاپېریال محافظوي قوانین رامنځته شوي، چې د نړۍ په هره نقطه کې ټول سوداګریز سازمانونه فعالیت کوي باید ورته قایل او ژمن واوسي. د نوموړې څېړنې څخه داسې پایله ترلاسه شوې، چې په کندهار ولایت کې د چاپېریال ساتنې قوانین د سوداګریزو سازمانونو پر فعالیتونو باندېډېره زیاته اغېزه ښندي او سوداګریز سازمانونه باید د خپل کاروبار د فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال د چاپېریال د محافظوي قوانینو بېلابېلو اړونده عناصرو ته ژمن پاتې شي او په پام کې یې ونیسي، څو د سوداګریزو سازمانونو له فعالیتونو څخه د ژوند چاپېریال منفي اغېزمن نه شي.

**وړاندیزونه**

۱. سوداګریز سازمانونه دې د چاپېریال ساتنې قوانینو ته ژمن پاتې شي او د خپلو فعالیتونو پر مهال دې د ککړتیا مخنیوي ته لومړیتوب ورکړي.

۲. د سوداګریزو فعالیتونو پر مهال دې د چاپېریال د ساتنې مهم عناصر په پام کې ونیسي، څو د اوبو، هوا، او خاورې ککړتیا کمه شي.

۳. شرکتونه او سوداګریز بنسټونه دې د تل پاتې سوداګرۍ اصول پلیکړي، څو هم د چاپېریال ساتنې قوانینو ته درناوی وشي او هم کاروبار ته اوږدمهاله ګټې ولري.

۴. د چاپېریال ساتنې قوانینو سره د تطابق لپاره دې لازم تدابیر ونیول شي، څو د احتمالي جریمو، قانوني ستونزو او محدودیتونو مخه ونیول شي.

**اخځلیکونه**

Anderson, L. and T. Bateman. 2000. Individual environmental initiative:Championing natural environmental issues in U.S. business organi-zations. Academy of Management Journal 43, 539-547. https://www.jstor.org/stable/1556355

Andrews, R. et al. 2003. Environmental Management Systems: Do They Im- prove Performance? Final Repor of the National Database on Envi-ronmental Management Systems Pilot Project. Chapel Hill, NC: De- partment of Public Policy, UNC-Chapel Hill. https://www.c2e2.org/documents/emsivolumei.pdf

Anton, W., G. Deltas, and M. Khanna. 2004. Incentives for environmental self-regulation and implications for environmental performance.Journal of Environmental Economics and Management 48, 1, 632-654. https://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S0095069603001025

Arora, S. and S. Gangopadhyay. 1995. Toward a theoretical model of vol-untary overcompliance. Journal of Economic Behavior & Organiza-tion 28, 3, 289-310. https://www.sciencedirect.com/science/article/abs/pii/0167268195000372

Bansal, P. and W. Bogner. 2002. Deciding on ISO 14001: Economics, in-stitutions, and context. Long Range Planning 35, 3, 269-290. https://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S0024630102000468

Berman, E., and Bui, L. T. M. (2001). Environmental Regulation and Productivity: Evidence from Oil Refineries. Rev. Econ. Statistics 83 (3), 498–510. doi:10.1162/ 00346530152480144

Christmann, P. 2000. Effects of "best practices" of environmental manage-ment on cost advantage: The role of complementary assets. Academy of Management Journal 43, 663-680. https://www.jstor.org/stable/1556360

Christmann, P. and G. Taylor. 2001. Globalization and the environment:Determinants of firm self-regulation in China. Journal of Interna-tional Business Studies,32, 439-458. https://www.jstor.org/stable/3069490.

Coglianese, C. and J. Nash. 2001. Regulating from the inside: Can envi-ronmental management systems achieve policy goals? Resources for the future press. Distributed by Johns Hopkins University Press. https://media.rff.org/archive/files/sharepoint/WorkImages/Download/RFF-Bk-reg-from-inside-ch1.pdf

Corbett, C. and L. Van Wassenhove. 1993. The green fee: Internalizing and operationalizing environmental issues. California Management Review 36, 1, 116-136 https://cmr.berkeley.edu/1993/11/36-1-the-green-fee-internalizing-and-operationalizing-environmental-issues/

Delmas, M. A., & Toffel, M. W. (2008). Organizational responses to environmental demands: Opening the black box. Strategic Management Journal, 29(10), 1027-1055. Wiley Online Library - Organizational Responses to Environmental Demands

Janadri, M. (2017). Health and Aire pulotion. Geneva, Switzerland: WHO. https://www.who.int/news-room/fact-sheets/detail/air-pollution

Lanoie, P., Laurent-Lucchetti, J., Johnstone, N., and Ambec, S. (2011). Environmental Policy, Innovation and Performance: New Insights on the Porter Hypothesis. J. Econ. Manag. Strategy 20 (3), 803–842. doi:10.1111/j. 1530-9134.2011.00301.

Li, B., and Wu, S. (2016). Effects of Local and Civil Environmental Regulation on Green Total Factor Productivity in China: A Spatial Durbin Econometric Analysis. J. Clean. Prod. 153 (1), 342–353. doi:10.1016/j. jclepro.2016.10.042

Kajir, O., & Board. (2019). Pulotion Index in India. Indiahealth https://pmc.ncbi.nlm.nih.gov/articles/PMC7805008/.

Ong, D. (2001). The impact of Environmental Law on Corporate Governance-international and comparative perspective. England: Nottingham Trent University. https://academic.oup.com/ejil/article/12/4/685/492278

Revira, J. (2016). Business and Environmental Protection. Washington DC: Jorge WashingtonUnviersity.https://www.researchgate.net/publication/286960292_Business_and_environmental_protection_An_introduction

Xie, G. (2022). The effect of new environmental protection law on corporate financialization in china. China: Xianxi University https://pubmed.ncbi.nlm.nih.gov/35764736/.